

# (٦)
# شپږ کلمې

Ketabton.com

ليکوال: عليم الله "عاصم"

0773049475

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ

له الله تعالی پرته د عبادت بل وړ نشته، محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) د الله تعالی بنده او رسول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَشْهَدُ اَنْ لآَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهٗ لاَ شَرِيْكَ لَهٗ
وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

زه شاهدي ورکوم چې له الله تعالی پرته د عبادت بل
وړ څوک نشته، هغه یو دی، سیال نه لري او دا شاهدي
ورکوم چې محمد (ﷺ) یې بنده او رسول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم

الله تعالی پاک دی، ستاینې هغه لره دي، له الله تعالی پرته د عبادت وړ بل زات نشته، الله پاک او لوی دی، له گناهونو د ساتنې او د نېکو کارونو د کولو وس(توفیق) یوازې هغه ورکوي، هغه د لویوالي او شوکت څښتن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهٗ لاَ شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَیٌّ لاَّ يَمُوْتُ اَبَدًااَبَدًاؕ ذُوالْجَلاَلِ وَالاِكْرَامِؕ بِيَدِهِ الْخَيْرُؕ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیٍٔ قَدِيْرٌ

له الله تعالی پرته د عبادت بل وړ زات نشته، سیال نه لري، پاچاهي او ستاینې هغه لره دي، ژوندي کول او مړه کول یې په واک کې دي، تل تر تله به ژوندی وي، د عزت او شوکت څښتن دی او ښېګڼه یې په واک کې ده، پر هر څه قادر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ رَبِّیْ مِنْ کُلِّ ذَنْبٍ اَذْنَبْتُهٗ عَمَدًا اَوْ خَطَاً سِرًّا اَوْعَلاَنِیَةً وَّاَتُوْبُ اِلَیْهِ مِنَ الذَّنْبِ الَّذِی اَعْلَمُ وَمِنَ الذَّنْبِ الَّذِیْ لاَ اَعْلَمُ اِنَّكَ اَنْتَ عَلاَّمُ الْغُیُوْبِ وَسَتَّارُ الْعُیُوْبِ وَغَفَّارُ الذُّنُوْبِ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ اِلاَّ بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمْ

زه له هغه زاته ښښنه غواړم چې زما الله دی، له هرې هغې ګنا څخه چې یا مې په قصد او یا په هېره سره کړي وي، د هغه په دربار کې له هرې ګنا څخه چې ماته مالومه وي او یا نه وي توبه وباسم، په تحقیق سره الله! پر پټو رازونو خبر یې! د عیبونو پټوونکی، او د ګناهونو ښښونکی یې! له ګنا څخه د ساتلو او د ښو کارونو کولو توفیق یوازې ته ورکوې! په تحقیق سره د لویې او شوکت څښتن یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ اُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا
وَّاَنَاۤ اَعْلَمُ بِهٖ وَاَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَاۤ اَعْلَمُ بِهٖ تُبْتُ
عَنْهُ وَتَبَرَّأْتُ مِنَ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ وَالْكِذْبِ
وَالْغِيْبَةِ وَالْبِدْعَةِ وَالنَّمِيْمَةِ وَالْفَوَاحِشِ وَالْبُهْتَانِ
وَالْمَعَاصِىْ كُلِّهَا وَاَسْلَمْتُ وَاَقُوْلُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ

الله! زه پر تا پورې پنا غواړم له دې څخه چې له تا
سره بل سیال وګڼم او زه پرې وپوهېږم، او له هغه شرک
څخه چې زه پرې نه پوهېږم، الله! تاته توبه وباسم له
هر کفر، شرک، دروغو، غیبت، بدعت، چغلي کولو،
سپکو سپورو او تور لګولو او له ټولو ګناهونو څخه،
ما ایمان راوړی او وایم چې: له الله تعالی پرته بل د
عبادت وړ (معبود) نشته، محمد (ﷺ) د الله رسول دی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**